UNAMA

د یوناما مطبوعاتي بیانیه

UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په هرات کې د ملګرو ملتونو د دفتر پر ودانۍ برید شوی**

**کابل د ۲۰۲۱ کال د جولای ۳۰مه -** په افغانستان کې ملګري ملتونه په هرات ولایت کې دخپل اصلي دفتر پر ودانۍ ننی برید په کلکو ټکو غندي چې په پایله کې یې یو افغان ساتونکی پولیس ووژل شو او نور افسران ټپیان شول.

په دغه برید کې حکومت ضد عناصرو د ملګرو ملتونو د تاسیساتو دروازه په نښه کړه چې په روښانه ډول پرې د ملګرو ملتونو نښې او علامې موجودې وې.

د هرات ښار شاوخوا سیمې چې د ملګرو ملتونو ودانۍ پکې موقعیت لري، نن د طالبانو او حکومتي ځواکونو تر منځ دجګړې شاهده وه. ملګري ملتونه په سملاسي توګه د برید په اړه د یو بشپړ انځور د ترلاسه کولو په لټه کې دی او په همدې موخه له ښکیلو اړخونو سره په اړیکه کې دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې دیبرا لاینزوویل: " پرملګرو ملتونو دغه برید ډیر خواشینونکی دی او موږ یې په کلکو ټکو غندو." هغې زیاته کړه: "موږ لومړی د قرباني شوي افسر کورنۍ ته تسلیت وایو او ټپي شویو ته د بیړنۍ روغتیا هیله کوو."

په دغه پیښه کې چې د ودانۍ پر دروازه د راکټ او مرمیو برید وشو د ملګرو ملتونو هیڅ کارکونکي ته زیان ندی رسیدلی.

اغلې لاینز چې د یوناما مشره هم ده وویل: " ددغه برید ترسره کونکي باید وپیژندل شي او حساب ته را کاږل شي."

د ملګرو ملتونو پر ملکي کارکونکو او دفتر برید د نړیوال قانون پراساس منع دی او کیدی شي جنګي جرم وبلل شي.

په افغانستان کې ملګري ملتونه یو ملکي سازمان دی چې د سولې د هڅو پر ملاتړ، د ټولو افغانانو د حقونو پر بهتره کیدو او د بشردوستانه او پرمختیایي مرستو په ترسره کولو تمرکز لري.

ملګري ملتونه د افغانستان د امنیتي خدماتو د ریاست له هغو افسرانو مننه کوي چې له برید کونکو څخه یې د ودانۍ دفاع وکړه.

* * *

*یوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره ملاتړ کوي. د سیاسي ماموریت په توګه له خپل ماموریت سره سم، یوناما د شخړې مخنیوی او حل، د ونډې اخیستنې د زیاتیدو او ټولنیز یووالي او همدارنګه د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي. دا ماموریت د اغیزمنې حکومتدارۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. یوناما د استقلالیت، بې پرې والي او یووالي د اصل په پام کې نیولو سره د ډیپلماتیکو اقداماتو په ګډون د شخړو د زیاتیدو او پراخیدو دمخنیوي په موخه ' د ښه نیت چارې' او نور کلیدي خدمتونه برابروي. دا ماموریت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوالې مرستې همغږې کوي.*